# د خان عبدالولي خان د شخصيت بدل نشته

نواب علي يوسفزے

نمر سپوږمۍ په خپل مدار کښې يو شان روان دي، زمکه او اسمان قائم دي، کائنات د الله تعالی په قدرت چلېږي. په دې دنيا کښې هره ورځ ګڼ شمېر انسانان پېدا کېږي او په يو لوئي شمېر کښې د مرګي غېږې له ځي. ډېر خلق د زمکې غېږه کښې اودهٔ شي او فنا شي او ډېر داسې خوش بخته انسانان هم وي چې په جسماني لحاظ د دنيا نه فنا شي خو په روحاني توګه ژوندي وي او ژوندي داسې وي چې د هر چا په خُلهٔ وي، هر څوک ئې يادوي او هم د داسې خلقو باره کښې د پښتو ستر شاعر خوشحال بابا وئيلي وو چې:

مړهٔ هغه چې نهٔ ئې نوم نهٔ ئې نښان وي
تل تر تله په ښهٔ نام پائي ښاغلي

دغه خلق کوم چې د مرګه پس هم ژوندي وي دوي ته خوشحال بابا ښاغلي وئيلي دي. دا ښاغلي هغه کسان وي چاته چې تاريخ ساز وئيلے کېږي.

د نن نه څلور کاله وړاندې زمونږ د ملک نه په عمومي ډول او د پښتونخوا نه په خصوصي توګه يو داسې شخصيت کډه وکړه، چې په مرګ ئې د هر چا سترګې غمژنې وې. چې د چا د سياست او بصيرت او اعلی اخلاقو او ژور نظر او فکر مخالفين هم معترف وو.

د خان عبدالولي خان نوم د هغې سياستدانانو په فهرست کښې په اول نمبر دے چا چې نهٔ خو د سرمايې په زور او نهٔ د جاګير په وجه دغه مقام حاصل کړے دے. هغوي خالصتاً د خپلو خداداد صلاحيتونو په وجه د اولس په زړونو کښې ځائے پېدا کړے ؤ. د خان عبدالولي خان په مرګ د هر پښتون سترګې نمژنې وې او زړهٔ ئې دردېدلے وهٔ. مرحوم کهٔ يو خوا د پښتون قام او پښتنې سيمې سره محبت کولو نو بل اړخ ته ئې په بين الاقوامي سطح د جمهوريت او د زپلو قامونو د حقونو دپاره هلې ځلې کولې. کهٔ يو اړخ ته ئې د صوبائي خودمختارۍ او په قدرتي وسائلو خپل اختيار غوښتلو، د جمهوري ادارو پائيداري او د آئين د بالادستۍ دپاره ئې جدوجهد کولو نو بل طرف ته ئې په کل عالم کښې د غاصبو قوتونو په ضد اواز اوچت کړے ؤ.

رهبر تحريک خان عبدالولي خان مرحوم يو اصول پسند سياستدان ؤ. دوي د هشنغر په اتمانزو کلي کښې په ۱۱ جنورۍ کال ۱۹۱۷ کښې د رئيس الاحرار، بابائے امن فخر افغان خان عبدالغفار خان په کور کښې زيږېدلي وو او په کال ۱۹۳۳ کښې د آئرش ګورنمنټ ډېره دون پبلک سکول نه سينئير کېمبرج کړے ؤ، د سياست شروع ئې په کال ۱۹۴۲ کښې د خدائي خدمتګار تحريک نه کړې وه چې باچا خان د پېرنګي سامراج او د نوابادياتي استعمار خلاف شروع کړے ؤ. خان عبدالولي خان

د پاکستان جوړېدو نه مخکښې د آل انډیا کانګرس د مرکزي کمېټۍ رکن هم ؤ او د پارټۍ صوبائي مرستیال سېکټر هم ټاکلے شوے ؤ. خان عبدالولي خان په وړومبي ځل په کال ۱۹۴۳ کښې پېرنګي سامراج د ایف سي آر قانون لاندې ګرفتار کړے ؤ او بیا د پاکستان د جوړېدو نه یو کال پس په ۱۹۴۸ کښې په دوېم ځل ګرفتار شو او د شپږ کاله قېد نه پس رها شو. دې نه پس د جنرل ایوب خان په مارشل لا کښې بیا ګرفتار کړے شو. کله چې جنرل یحيٰي خان مارشل لا ولګوله نو خان عبدالولي خان ئې ګرفتار کړو. د پاکستان ماتېدو نه پس سول مارشل لا اېډمنسټرېټر بوټو صاحب حېدر اباد سازش کېس کښې ونیولو او د باچا خان ټول خاندان د بوټو صاحب د سختې انتقامي کارروایۍ ښکار شو.

په کال ۱۹۷۰ کښې ئې شېخ مجیب الرحمان په دې راضي کړو چې هغه دې د پاکستان ماتېدو خبره نهٔ کوي او دغسې ئې هغه رضا کړو. په کال ۱۹۷۳ کښې د پاکستان آئین جوړ کړے شو او باوجود د دې چې په بوټو صاحب د ولي خان اعتبار او باور نهٔ ؤ خو د ۹۰ لکه قېدي فوځیانو د ازادولو دپاره ئې بوټو صاحب سره مرسته وکړه او د هغې نتیجه وه چې بوټو صاحب د اندرا ګاندهي سره معاهده وکړې شوه.

کله چې د ۱۹۷۳ آئین جوړ شو نو ولي خان د لیډر آف اپوزیشن په حېثیت په آئین کښې د صوبائي خودمختارۍ ضمانت او د قدرتي وسائلو آمدن صوبو ته په ورکولو مرکزي حکومت پابند کړو.

رهبر تحریک یو ژور بصیرت لرونکے انسان ؤ هغوي د افغانستان جهاد ته فساد وئیلي وو او دې جنګ ته ئې د روس او امریکې د مفاداتو جنګ وئیلے ؤ او بیا وروستو وخت او حالاتو د هغوي هغه خبره صحیح ثابته کړه او دنیا ومنله چې خان عبدالولي خان رښتیا وئیلي وو.

خان عبدالولي خان به لکه د خپل نابغه پلار باچا خان د کالا باغ ډېم ته د پښتنو د تباهۍ منصوبه وئیله او د دې به ئې زبردست مخالفت کولو. د هغوي دغه مشن چې اوس کله د عوامي نېشنل پارټۍ مشر اسفندیار ولي خان ته وسپارلے شو نو هغوي د خپل ستر پلار په نقش قدم روان شو او د هغې نتیجې خلقو ولیدې چې د کالا باغ ډېم د منصوبې نه حکومت دستبرداره شو. په این اېف سي ایوارډ کښې په وړومبي ځل ټولو صوبو ته خپل حق ورکړے شو او انشاء الله د پښتنو د صوبې نوم به هم ډېر زر بحال کړے شي.

خان عبدالولي خان د سیاست نه علاوه د علم او ادب سره هم ډېره مینه لرله. هغوي له پښتو، اردو، عربي او انګرېزي ژبې هم ښې ورتلې، د رحمان بابا کلام هم ورته ډېر یاد ؤ. د مطالعې ډېر زیات شوق ئې لرلو. دغه وجه وه چې په سوونو متلونه او په زرګونو ټپې ورته یادې وې او د موقعې او محل مناسب ئې د هغې د استعمال هنر هم زده ؤ. ولي خان د یوې اعلي پایې ادیب او مؤرخ ؤ. د هغوي لائبرېري د نایابو کتابونو نه ډکه وه. د ایوب خان په مارشل لا کښې چې کله ګرفتارېدو نو هغه وخت د دوي دغه قیمتي لائبرېري هم لوټ کړې شوې وه. «رښتیا رښتیا دي» او «باچا خان او خدائي خدمتګاري» (څلور جلده) د هغوي لیکلي کتابونه دي.

خان عبدالولي خان په اسلامي تاريخ کښې حضرت امام حسېن رضي الله عنه اولنے اپوزيشن ليډر تسليمولو. دوي چرې د حکومت شوق نۀ ؤ کړے. همېشه ورته د اقتدار لالچونه ورکړي شوي وو خو دوي ترې هر ځل انکار کړے ؤ. سکندر مرزا او بيا وروستو ايوب خان ورته د وزارت خارجه د عهدو پېشکشونه کړي وو خو دوي يو هم نۀ ؤ قبول کړے. ضياء الحق ورته د جونيجو صاحب د وزير اعظم جوړېدو نه مخکښې د وزير اعظمۍ پېشکش کړے ؤ خو خان صاحب ترې انکار کړے ؤ. بيا ورته جنرل ضياء الحق پېغام راولېږلو چې زۀ تا د سارک کانفرنس ستر سېکټر جوړوم خو دوي بيا هم انکار وکړو. په دوي ځلور ځله قاتلانه حملې شوې وې، دوه ځله په ملاکنډ کښې او دوه ځله په پنجاب کښې. خو د هغوي دا ايمان ؤ چې د ګور شپه نۀ په کور کېږي.

نن دغه ستر تنګيالے او ښاغلے په مونږ کښې موجود نۀ دے خو د هغوي افکار، د هغوي خبرې، د هغوي سياست او د هغوي اصول مونږ سره موجود دي او دا ډېره د زړۀ غټاوي خبره ده چې د هغوي د فکر بچي د هغوي په ښودلې شوې لار خپل منزل ته د اسفنديار ولي خان په مشرۍ کښې روان دي.

(نوټ : ليکونکے د عوامي نېشنل پارټۍ ستې ډسټرکټ پېښور ستر سېکټر دے.)